**بسم الله الر حمن الر حيم**

**له الله سبحانه و تعالی سره دوامداره اړیکه**

له عبادة بن صامت څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«**مَنْ تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ، فَقَالَ: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، الحَمْدُ لِلَّهِ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ، وَلاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، أَوْ دَعَا، اسْتُجِيبَ لَهُ، فَإِنْ تَوَضَّأَ وَصَلَّى قُبِلَتْ صَلاَتُهُ**» **رواه البخاري(1154).**

**ژباړه:** څوک چې د شپې راویښ شي او ووایي: «**لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، الحَمْدُ لِلَّهِ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ، وَلاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ**» بیا ووایي: «**اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي**» یا بله دعاء وکړي، نو دعاء یې قبلیږي او که چیرې اودس وکړي او لمونځ اداء کړي، هغه هم قبلیږي.

اې الله! ته پاک او سپېڅلی ذات یې او موږ دې حمد او ثنا وایو، ته عظیم او ستر ذات یې او له تا پرته بل هیڅ حق معبود نشته. ته پاک او سپېڅلی ذات یې چې موږ دې پیدا کړي یو او موږ ته دې سمه سیده او روښانه لار راښودلې ده، چې تګ پرې وکړو او بېلارې نه شو. ته پاک او سپېڅلی ذات یې چې موږ ته دې داسې رسۍ او تارونه راکړي دي چې له تا سره پرې اړیکه ټینګوو، کله چې موږ د تسبیح او تحمید رسۍ نیسو، نو په زړونو کې مو ایمان زیاتیږي او کله چې د ذکر تارونه نیسو، نو تقوا مو زیاتیږي. نو خوشالي دې وي د هغه چا لپاره چې ستا ورکړه یې اخیستې ده او افسوس د هغه چا پر حال چې ستا له اطاعت څخه یې مخ ګرځولی.

اې مسلمانانو!

له الله تعالی سره د اتصال دوام چې الله تعالی یې له بندګانو غواړي، اوس هغسې نشته څنګه یې چې الله تعالی غوښتنه لري، دا ځکه چې پستو (لوېدلو) حکامو له امت سره خیانت کړی او د دوستۍ پر ځای دښمني ورسره کوي. له هغه راهیسې چې دغو حکامو پر امت باندې د غربي وضعي نظامونو تطبیق پیل کړی ــ چې نه له امت او نه یې له دین سره تړاو لري ــ امت د پانګوال نظام تر سیوري لاندې خورا په سخت حالت کې ژوند کوي، نو اوس د ذکر تارونه بدل شوي او د الله تعالی د تسبیح او تهلیل ځای حکامو ته ښېرا او د هغوی پر وړاندې د تکبیر غړونو کولو نیولی، خو په دې کې هم خیر دی، ځکه په دې دواړو حالتونو کې له الله تعالی سره د اتصال دوام شته.

اې الله! موږ ته ژر د نبوت پر منهج راشده خلافت راکړې، چې په وسیله یې د مسلمانانو ستونزې او کړاوونه ختم شي. اې الله په خپل مبارک نور سره ځمکې ته روښنايي وروبخښه. الهم آمین.

لیکنه: ابو مریم

ژباړه: یما افغان